# روژه

****

یوه خېړنیزه کتنه

Ketabton.com

لیکنه او څېړنه:

رحمت شاه ((فراز))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د الله په نزد دین یوازې اسلام دی. اسلام د فطرت دین دی او ټوله نړۍ په همدې فطرت پنځول شوې. د انسان د نېکمرغۍ راز د اسلامي احکامو په نېکمرغه او ژوند ښېونکي ځادر کې په ځان پېچلو کې دی. که انسان غواړي خوشاله او هوسا شي، نو پکار ده چې بیروني نړۍ یې له باطن سره سمون وخوري. که انسان خپل ځان ته هغه څه غواړي چې له باطن سره یې ټکر لري، خوشالي یې نه شي په برخه کېدی. اسلام د انسان له باطن سره سمون او ورته والی لري، له همدې امله ورته بویه چې د باطن تنده د اسلام په رڼه او بهاند چینه ماته کړي او خپل باطن ته پرې ارامتیا وبښي.

د روژې په تړاو په دې تنګ لمنه مقاله کې مې هڅه کړې څو د روژې فلسفه په لنډو ټکو کې تر هېوادوالو ورسوم؛ د روژې اړوند فقهي مسایل مې فقهاوو او علماوو ته پرې ایښي او دا مقاله د دې جوګه نه وه چې د فقهې اوږده اوږده بحثونه پکې راټول کړی شوي وی.

ستاسو مښتو نیوکو، نېکو لاربښوونو او غوره وړاندیزونو ته سترګې په لار

رحمت شاه ((فراز))

د لیکوال اړیکشمېره: 0093 (0) 76 75 74 834 / 0093 (0) 78 06 34 838

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ژبنۍ څېړنه

الصوم د صَامَ يَصُومُ صَومًا او صِيَامًا مصدر دی، ماده يې (ص و م) ده چې په يوه ځای کې په تم کېدو او ټينګ پاتې کيدو دلالت کوي. له همدې کبله موږ وايو صَومُ الصائِم او دا له خوراک څښاک او له نورو منعه کړيو شيانو څخه د ده ځان را ټينګول دي. او له خبرو را درېدل هم روژه ده. اهل لغت د الله تعالی د دې وينا په هکله فرمايي: ((ما د رحمن لپاره روژه منلې — سورت مريم: ۲۴)) دا يقيناً له خبرو را درېدل دي، يانې غلي کېدل او ټينګېدل — يانې په يوه ځای لکه ولاړ — له همدې امله ((ولاړ)) ته هم صائم وايي.

او همدارنګه صوم د باد درېدو ته هم وايي، او صوم په نيمه غرمه کې د لمر په آسمان کې برابرېدو ته هم وايي — ګورې هغه له خپل دورانه ودرېد. او دغه راز وايو صام النهار، کله چې لمر د آسمان په منځ کې وي او ابن منظور وايي: الصّوم د خوراک، څښاک، کوروالي او خبرو پرېښودل دي.

او مناوي د ((صوم)) د واژې بېلا بېلې معناوې را يو ځای کړې، وايي:

الصوم: په هغه شي کلک پاتېدل دي چې د تصرف توان پکې ولرې، لکه لمر چې د آسمان په منځ کې په کلکه سره ولاړ وي. ويل کېږي: صَامَتِ الشَّمسُ کله چې د لمر پورته يا کښته لوري ته خوځښت تر سترګو نه شي همدا خوځښت يې کار او توان ده. او صَامَتِ الخَيلُ وايو کله چې آس څرلی وي سپرلي نه وي پرې شوې او صَامَ الإِنسَانُ وايو کله چې انسان له هغو کارونو را ودرېږي چې ترسره کول يې په توان کې وي لکه د بدن ساتنه په خوړو او نفس ساتنه په نکاح سره، او په روژه کې له خوړو لرې کېدل دي او له خوندور حالت څخه را ګرځېدل دي او د شرم ځای د شهوت له منځه تلل دي، او په دنيا کې له اخته کيدو څخه د خپل عزت ساتنه ده او الله جل جلا له ته پام اړول دي او د ده په کور کې ځنډ کول دي تر څو په دې اعتکاف سره مو د حکمت چېنې له زړه څخه را و بهېږي.

***

## د روژې پېژاند

له خوراک، څښاک، کوروالي او له ټولو ماتوونکو شيانو څخه بشپړه ورځ د سپېدو چاودېدو له مهاله د لمر تر ډوبېدو د روژې په نيت ځان راګرځول دي.

او چا ويلي: روژه په ځانګړي مهال کې په ځانګړو شرطونو ځانګړي را درېدل دي.

او جرجاني وايي: الصوم په شريعت کې له ځانګړي را بندېدو څخه عبارت ده او هغه له سهاره تر ماښامه د روژې له نيت سره له خوراکه، څښاکه او له کوروالي څخه را بندېدل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو پوهنغونډ کې د روژې پېژاند په دې ډول شوی: ((روژه چې په عربي کې يې صوم بولي، د پرهېز، ځان ژغورنې او بنديز په معنا ده. د روژې مياشتې ته ((رمضان)) هم وايي. د فقهې د عالمانو په نزد روژه د خوراک، څښاک او جنسي عمل پرېښودو ته وايي چې له سهار نه تر ماښامه پورې په نيت سره عملي کړی شي.))

***

## د رمضان واژې ته يوه کتنه

په عربي ژبه کې د روژې مياشت ته ((رمضان)) ويل کېږي. د ((رمضان)) کلمې په تړاو يو عالم وايي چې په دولسو اسلامي مياشتو عربانو نوم ايښی، خو د روژې په مياشتې د ((رمضان)) نوم الله تعالی ايښی چې بېله او ځانګړې معنا لري. نوموړی زياتوي چې د ((رمضان)) معنا ((سوځول)) يا ((سوځېدل)) دي. د دې نوم او د روژې ترمنځ د همغږۍ په تړاو دی وايي چې لوږه او تنده د انسان په بدن اور پورې کوي، دغه اور چې د انسان دننه د لوږې او تندې له کبله هره ورځ رامنځته کېږي، الله تعالی په هغه کې د انسان تېر ګناهونه واچوي او ويې سوځوي او په دې ډول تر وروستۍ روژې پورې د انسان ټول ګناهونه وسوځېږي.

ابن منظور ليکي: ((په عربي ژبه کې د ((رمضان)) ماده رَمَضٌ دی چې معنا يې سخته ګرمي او تودوخه ده، دا چې په روژه کې روژتي د لوږې او تندې ګرمي احساسوي، له همدې ورته رمضان ويل کېږي.))

((لسان العرب: ۷: ۱۶۲))

ملا علي قاري رحمه الله بيا ليکي: ((رمضان له ((رمضاء)) څخه اخيستل شوی چې معنا يې ډېره توده ځمکه ده، په دې اساس ((رمضان)) د ډېر ګرم معنا ورکوي. د ((رمضان)) دا نوم له دې امله ورکول شوی چې کله عربانو له پخواني لغت څخه د مياشتو نومونو را اخيستل نو مياشتو ته يې د هغو وختونو او موسمونو له مخې نومونه ورکړل چې په هغو مياشتو کې جاري وو. د تصادف له مخې ((رمضان)) د اوړي په موسم کې پېښ شوی وو، له همدې امله يې د ((رمضان)) نوم ورکړ.))

((مرقاة المفاتيح: ۴: ۲۲۹))

په اردو پوهنغونډ کې راغلي: ((رمضان د (ر م ض) مادې مصدر دی چې معنا يې سخته ګرمي او تودوخه ده.))

په ((www.almaany.com)) وېبپاڼه کې د ((رمضان)) د زياتو مشتقاتو معناوې راغلې چې را اخيستل به يې بې ګټې نه وي:

۱- رمضة الراعي مواشية: په سخته تودوخه يا ګرم ځای کې د شپون مالونه څرول.

۲- رمَّضةُ الصوم: د روژې نيت کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- رَمِضَت الأرضُ: پر ځمکه تېز لمر پرېوتل.

۴- رَمِضَت قَدمة: په توده ځمکه د پښو سوځېدل.

۵- رمضت الصائم: د تندې له سختي څخه د روژتي دننۍ برخه سوځېدل، یا ګرمېدل.

۶- رَمَضَت للامر: په یوه خبره ګرمېدل.

د ((رمضان)) د کلمې په اړه یو بل لیدلوری دا دی چې پکار ده دا میاشت یوازې د ((رمضان)) په کلمې یاده نه شي، بلکې د ((رمضان میاشت)) وویل شي، ځکه چې ((رمضان)) د الله تعالی له نومونو څخه یو نوم دی؛ او په دې هکله د یوه حدیث حواله هم ورکول کېږي، خو دا نظر د ((جعفریه)) مذهب علماء وړاندې کوي.

والله اعلم.

***

## د روژې نور نومونه

روژې ته په احادیثو کې ((شهر المؤاسات)) او ((شهر الصبر)) هم ویل شوي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم به دا میاشت د اختر میاشت هم بلله.

د اردو ژبې په پوهنغونډ کې راغلي: ((روژتي یا روژه لرونکي ته په قرآن کریم کې ((السَّائحون)) او ((السَّائحات)) هم ویل شوي چې د سَاحَ، یَسیحُ سَیحا څخه دی او معنا یې ده ((هغه سفر وکړ))، د سائح په دې کلمه کې دې ته نغوته ده چې روژه لرونکی روحاني سفر کوي.))

د روژې نور نومونه په لاندې ډول دي:

۱- شهر الله – د الله میاشت.

۲- شهر الله الاعظم – د الله تر ټولو ستره میاشت.

۳- شهر ضیافة الله – د الله د مېلمه پالنې میاشت.

۴- شهر قرأة قرآن: د قرآن لوستنې میاشت.

۵- شهر الصیام: د روژې نیولو میاشت.

۶- شهر الاسلام: د اسلام میاشت.

۷- شهر الطهور: د پاکوالي میاشت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- شهر التمحیص: د سوچه کولو میاشت.

۹- شهر القیام: د لمانځه میاشت.

۱۰- شهر العتق من النار: له اور څخه د خلاصون میاشت.

۱۱- شهر الصبر: د صبر میاشت.

۱۲- شهر المؤاساة: د خواخوږۍ میاشت.

۱۳- شهر البرکة: د برکت میاشت.

۱۴- شهر المغفرة: د مغفرت میاشت.

۱۵- شهر الرحمة: د رحمت میاشت.

۱۶- شهر التوبة: د توبې میاشت.

۱۷- شهر الانابة: د بېرته راګرځېدو میاشت.

۱۸- شهر الاستغفار: د بښنې غوښتو میاشت.

۱۹- شهر الدعا: د دعا میاشت.

۲۰- شهر العبادة: د عبادت میاشت.

۲۱- شهر الطاعة: د اطاعت میاشت.

۲۲- شهر مبارک: مبارکه میاشت.

۲۳- شهر عظیم: ستره میاشت.

۲۴- شهر یزاد فیه رزق المؤمن: د مؤمن د رزق د زیاتوالي میاشت.

۲۵- سید الشهور: د میاشتو مشره.

۲۶- ربیع القرآن: د قرآن پسرلی.

۲۷- ربیع الفقراء: د نېستمنو پسرلی.

۲۸- ربیع المؤمنین: د مؤمنانو پسرلی.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د روژې تاريخ

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ١٨٣ أَيَّامًا
مَّعْدُودَاتٍ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ
مِسْكِينٍ فَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ وَأَن تَصُومُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ١٨٤ شَهْرُ رَمَضَانَ
الَّذِيَ أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَن
كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلاَ يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُواْ الْعِدَّةَ
وَلِتُكَبِّرُواْ اللّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ١٨٥

ژباړه: اې مؤمنانو پر تاسو باندې روژه داسې فرض شوې ده، لکه چې له تاسو نه پر مخکينيو فرض شوې وه، د دې لپاره چې ځان ساتنه وکړئ. څو شمېرلې ورځې، نو که تاسو نه څوک ناروغ او يا مسافر وي نو بيا له نورو ورځو نه شمېر (پوره کول) دي او څوک يې چې په تکليف سره نيولی شي پر هغه د يوه مسکين ورځني خواړه فديه ده او چا چې په خپله خوښه څه نيکي وکړه نو لا ورته ښه ده، او که روژه ونيسئ (ډېره) درته غوره ده، که پوهېږئ. د رمضان مياشت خو هماغه ده چې قرآن پکې نازل شوی د خلکو لپاره لارښود، د هدايت څرګندې نښې او د حق او باطل بېلوونکی (کتاب) نو تاسو نه چې څوک دا مياشت بيامومي، هغه دې روژه ونيسي، او څوک چې ناروغ يا په سفر وي نو په ده له نورو ورځو نه شمېر پوره کول دي. الله خو تاسو ته آساني غواړي، سختي خو درته نه غواړي. دا د دې لپاره چې تاسو هماغه شمېر پوره کړئ (په قضا سره) او الله په لويي ياد کړئ چې هدايت يې درته کړی او شکر وباسئ.

د نورو عبادتونو په څېر د روژې تاريخ هم ډېر لرغونی دی. د روژې په اړه کوم آيتونه چې پورته را نقل شوي، په هغو کې قرآن کريم دا په ډاګه کړې چې روژه پر مسلمانانو په هماغه ډول فرض کړی شوې، لکه پر مخکينيو قومونو چې فرض شوې وه. دا يو څرګند حقيقت دی چې د نفس د تربيت د يوه مهم عبادت په توګه د روژې تصور په ټولو اديانو او مذاهبو کې وو.

د نېنوا او بابل تمدن ډېر لرغونی دی. يو وخت دلته د آشور قوم استوګن وو. د يونس عليه السلام بعثت هم په همدوی کې شوی. په لومړيو کې يې دغه سپېڅلی پيغمبر دروغجن وباله او وروسته يې بيا پرې ايمان راووړ. د هغوی د توبې او بېرته راګرځېدو يادونه په بايبل کې د ((يونس صحيفه)) کې په دې ډول شوې:

((هغه مهال د نېنوا پرګنو پر خدای ايمان راووړ او د روژې اعلان يې وکړ او لوی او کوچني ټولو کلک ټوکر پر تن کړ. او دا خبره د نېنوا تر پاچا ورسېده، او نوموړی له خپل تخت څخه را پورته شو او شاهي جامې يې پر تن کړې او کلک ټوکر يې له ځان څخه تاو کړ او په ايرو کېنوست. او د پاچا او د دولتي چارواکو د فرمان له مخې په نېنوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې اعلان وشو او دا خبره خپره شوه چې هېڅ انسان یا حیوان، ګله او رمه دې هېڅ شی هم نه څکي، یا خوري او څښي، بلکې انسان او حیوان دې کلک ټوکر واغوندي او د خدای په وړاندې دې ژړا او زارۍ وکړي، او هر کس دې له خپل بد چلند او د خپل لاس له ظلم څخه را وګرځي.)) (۳: ۵ – ۷)

د جاهلیت په وختونو کې هم د عربانو لپاره روژه یو نااشنا څیز نه وو. د هغوی په ژبه کې د ((صوم)) د واژې شتون پخپله د دې خبرې د سپیناوي لپاره بسندویه دی چې دوی له دې عبادت سره پوره اشنا وو. په ((المفصل في تاریخ العرب قبل الاسلام)) کې جواد علي لیکي:

((په روایتونو کې راځي چې قریشو به د عاشورا د ورځې روژه نیوله. په دې ورځ به دوی راټولېدل، اختر به یې نمانځی او بیت الله ته به یې غلاف ور اغوست. د دې توجیه تاریخ لیکونکي دا بیانوي چې قریشو په جاهلیت کې داسې یوه ګناه وکړه چې د هغې بار یې ډېر زیات احساس کاوه. دوی د هغې ګناه کفاره غوښته، نو د عاشورا د ورځې روژه یې ځان ته غوره کړه. په دې ورځ به یې دا روژه له الله تعالی څخه د منني په پار نیوله چې دوی یې د هغې ګناه له ناوړه پایلو څخه خوندي وساتل. په روایاتو کې راځي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هم له نبوت مخکې دا روژه نیوله.... د دې روژې توجیه په دې ډول شوې چې یو وخت په قریشو قحطي راغله، بیا الله تعالی له دې قحطۍ څخه وژغورل، نو دوی د الله د شکر پر ځای کولو لپاره د دې روژې نیول پیل کړل.)) (۶/ ۳۳۹ – ۳۴۰)

د یهودو او نصاراوو په شریعت کې هم روژه یو عام عبادت دی. په بایبل کې د هغوی د روژو یادونه ځای ځای شوې او د هغې لپاره د صوم د ځانګړي توري پر ځای په ځینو ځایونو کې د ((ځان ته کړاو رسولو)) او ((د نفس ځپلو)) تعبیرات هم غوره کړی شوي.

په خروج کې دي:

((او خدای موسی ته وویل چې ته دا خبرې ولیکه، ځکه چې د همدې خبرو د مفهوم له مخې زه له تا او اسرائیل څخه ژمنه اخلم. نو موسی څلوېښت ورځې او څلوېښت شپې له خدای سره پاتې شو او نه یې ډوډۍ وخوړله او نه یې اوبه وڅښلې او په دې تختو یې د هغه ژمنې خبرې یانې لس احکام ولیکل.)) (۳۴: ۲۷ – ۲۸)

په احبار کې راځي:

((او دا ستاسو لپاره یو تلپاتې قانون دی چې د اوومې میاشتې په لسمه نېټه خپل ځان ته کړاو ورسوئ او په دې ورځ، که ځایي وي او که مسافر چې ستاسو په منځ کې استوګنه لري، هېڅ ډول کار دې نه کوي. په دې چې په دې ورځ به ستاسو لپاره ستاسې د پاکوالي په پار کفاره درکول کېږي. نو تاسو به له خپلو ټولو ګناهونو څخه د خدای په نزد سپېڅلي یاستئ. دا به ستاسو لپاره د ځانګړي ارام (سبت) وي. په دې ورځ خپل ځان ته کړاو ورسوئ.)) (۱۶: ۲۹ – ۳۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په قضاة کې راځي:**

**((بیا ټول بني اسرائیل او ټول خلک پاڅېدل او د خدای کور ته راغلل او هلته یې د خدای په وړاندې وژړل او په هغه ورځ یې تر ماښامه روژه ونیوله او د خدای په وړاندې یې اورینې قربانۍ او د هوساینې قربانۍ ورکړې.)) (۲۰: ۲۶)**

**د سمویل په دوهمه برخه کې یاد شوي:**

**((او هغه د ساؤل او د هغه د زوی یونتن او د خدای د خلکو د اسرائیل د کورنۍ لپاره ژړا او زارۍ پیل کړې او تر ماښامه یې روژه ونیوله، په دې چې هغوی په توره وژل شوي وو.)) (۱: ۱۲)**

**((د همدې لپاره داؤد د هغه هلک لپاره خدای ته زارۍ وکړې او داؤد روژه ونیوله او دننه لاړ او ټوله شپه په ځمکه پروت وو.)) (۱۲: ۱۶)**

**په نحمیاه کې راځي:**

**((بیا د همدې میاشتې په څلور ویشتمه نېټه بني اسرائیلو روژه ونیوله او کلک ټوکر یې له ځان څخه تاو کړ او په خپلو سرونو یې خاورې واړولې. او د اسرائیلو د پښت ټول خلک له مسافرو څخه بېل شوو، او پاڅېدل او د خپلو ګناهونو او د خپلو پلرونو او نیکونو د تېروتنو اقرار یې وکړ.)) (۹: ۱ — ۲)**

**په زبور کې دي:**

**((خو ما خو د هغوی په ناروغي کې، کله چې هغوی ناروغ وو، کلک ټوکر واغوست او د روژو په نیولو مې ځان ته کړاو ورکړ او زما دعا بېرته زما سینې ته راوګرځېده.)) (۳۵: ۱۳)**

**په یرمیاه کې راځي:**

**((خو ته لاړ شه او د خدای هغه کلام چې زما له خولې دې په دې صحیفه کې لیکلی، د خدای په کور کې یې د روژې په ورځ خلکو ته واوروه.)) (۳۶: ۶)**

**په یوایل کې راځي:**

**((د خدای ورځ ستره او ډېره وېروونکې ده. څوک یې زغمی شي؟ خو خدای فرمایي: اوس هم په ټول زړه روژه ونیسئ او په ژړا او زارۍ زما خواته را وګرځئ. او خپلې جامې نه، بلکې په خپلو زړونو کې درز وکړئ او د خپل خدای لور ته مخ واړوئ، ځکه چې هغه رحیم او مهربانه، د قهر په کولو کې ورو او په لورېینه کې غني دی او د عذاب له راوستو څخه ځان لرې ساتي.)) (۲: ۱۱ — ۱۳)**

**په زکریا کې راځي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

((بیا د پوځونو د څښتن کلام پر ما نازل شو چې د پوځونو څښتن داسې فرمايي چې د څلورمې او پنځمې او اوومې او لسمې مياشتې روژه به د يهودا د کورنۍ لپاره د خوښۍ او خوشالۍ ورځ او د سوکالي اختر وي.)) (۸: ۱۸ – ۱۹)

په متی کې راځي:

((او کله چې تاسو روژه ونيسئ نو د رياکارانو په څېر خپلې څېرې غمجنې مه نيسئ، ځکه هغوی خپلې څېرې ويجاړوي ترڅو خلک يې روژه لرونکي وګڼي. زه تاسو ته رښتيا وايم چې هغوی خپل اجر ترلاسه کړی، بلکې کله چې ته روژه ونيسې نو په خپل سر تېل وموښه او مخ دې ووينځه تر څو انسان نه، بلکې ستا پلار چې په پټه کې دی، هغه تا روژه لرونکی وګڼي. په هغه صورت کې به ستا پلار چې په پټه کې تاويني، تا ته اجر درکړي.)) (۶: ۱۶ – ۱۸)

په اعمال کې راځي:

((کله چې هغو د خدای عبادت کاوه او روژه يې نيوله، نو روح القدس وويل: زما لپاره برنباس او ساؤل د هغه کار لپاره ځانګړي کړئ چې له امله يې ما ورته بلنه ورکړې. نو هغوی روژه ونيوله، دعا يې وکړه او په هغوی يې لاس ور کېښود او هغوی يې رخصت کړل.)) (۱۳: ۲ – ۳)

د دې ترڅنګ روژه په نورو اديانو او مذاهبو کې هم دود وه. صائيبينو به د دېرشو ورځو روژې نيولې او د مياشتې په پای کې به يې اختر نمانځی. هندوان د چندراين روژې نيسي او د سپوږمۍ له کمېدو او زياتېدو سره د خپلې مړۍ اندازه هم کموي او زياتوي.

په پښتو پوهنغونډ کې د نصاراوو د روژې په هکله ويل شوي:

((د نصاراوو په نزد روژه له نيمې شپې نه تر نيمې ورځې پورې د خوراک او څښاک پرېښودو ته ويل کېږي، ځينې پکې يوازې د غوښې او پنير نه خوړلو ته روژه وايي او د نورو خوارکونو پرېښودل پکې ضرور نه دي. ))

د پوهنغونډ را ټولوونکي خبرو ته اوږه ورکوي او زياتوي چې: ((په انساني ټولنو کې د دين له پيل نه وروسته تر اوسه پورې په ټولو دينونو کې د روژې حکمونه راغلي دي، بې د زردشت له دين څخه چې روژه پکې نه وه.))

له دې وروسته د ځينو نورو اقوامو په اړه ليکي: ((مصريانو به د ((رامسيس)) په عبادت او نمانځنه کې روژه نيوله. په لرغوني يونان کې به د کښت او زراعت د خدای عبادت د روژې په نيولو په ځای کېدی. روميانو به هم د غمجنو او دردناکو پېښو په وخت کې روژې نيولې. خو هندوان د زياتو روژو په نيولو د نړۍ له ټولو ديندارانو څخه وړاندې دي. دوی بې له څه خوراک او روژې ماتولو څخه پرلپسې روژې نيسي او له کوچنيوالي څخه وړاندې ځانونه اموخته کوي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسماني اديانو په لارويو کې د روژې د عبادت په اړه ليکي: ((اسرائيلو د موسی د شريعت له مخې په کال کې خالي يوه ورځ روژه نيوله، دغه ورځ د هر کال د اوومې مياشتې لسمه ورځ وه. بيا يې د ژوندانه د دردناکو او غمجنو پېښو په ياد د روژو شمېر هم زيات کړ. نصرانيانو پخوا ډېرې زياتې او سختې روژې نيولې. لکه د هرې ورځې په آخر کې به يې د څه خوړلو او روژې ماتولو لپاره ډېر لږ وخت درلود او نور به شپه او ورځ روژه په خوله وو. مګر کله چې کليسا د حکومت د لاسته راوړلو لپاره هڅه پيل کړه نو د بېلو بېلو کليساوو مشرانو د خپلو ګټو لپاره مختلف حکمونه را وايستل او ډېرې روژې يې وبښلې.))

د مسلمانانو د روژې د وخت او مهال په تړاو ليکي: ((د مسلمانانو روژه د سهار له وختونو څخه د ورځې تر پايه يانې د لمر تر لوېدو پورې نيول کېږي او د روژې بنديزونه يکې له ټولو دينونو څخه زيات او سخت وي.)) په دې ځای کې له بنديزونو څخه موخه د درنو ليکوالانو هغه بنديزونه دي چې په فقهې پورې اړوند دي، د روژې ټوليز جوړښت او نظام ترې هدف نه دی.

د خپلې پورتنۍ خبرې د پخلي په تړاو ليکي: ((کله چې د روژتي له ستوني څخه ماشی او مچ تېر شي، يا په پوزه او غوږ کې څه شی وڅخوي يا د مېوې زړی تېر کړي، يا يې په خوله کې د باران څاڅکی ننوځي او داسې نورو نو روژه پرې ماتېږي.))

خو د دې مقالې ليکوال دلته دا يادونه اړينه بولي چې د روژې په هکله پورته يادو فقهي مسايلو ته دې اعتبار نه ورکول کېږي، بلکې ښه به دا وي چې په دې هکله د فقهې مستقل کتابونه وکتل شي؛ او په دې برخه کې د پوهنغونډ ليکوالان هم له ليکوال سره يوه خوله دي، ځکه په پوهنغونډ کې د روژې تر عنوان لاندې مقاله په دې کرښه پای ته رسېږي: ((روژه ډېر حکمونه لري چې بايد د فقهې په اوږدو بحثونو کې وکتل شي.))

د روژې تصور د سکانو په مذهب کې هم تر سترګو کېږي، د سکانو په مذهبي کتاب ((سري ګرو ګرانت صاحب)) کې ليکل شوي:

((تاسو ښايي دېرش روژې ونيسئ او هره ورځ پنځه وخته لمونځ وکړئ...)) (۴: ۲۷)

((روژې، ورځني عبادتونه او پرهېزګاري – هغه څوک چې پر دې ټولو عمل کوي...))

((ذهن ته مو قناعت ورکړئ او پر ټولو څاکښو رحم وکړئ، په دې ډول به ستاسو روژې ومنل شي.))

دا د روژې تاريخ او په نورو اديانو کې د روژې تصور ته لنډه کتنه ده. له دې څرګندېږي چې د لمانځه او زکات په څېر روژه هم د قرآن د مخاطبينو لپاره نا اشنا څيز نه وو. هغوی د روژې له ديني حيثيت او حدودو او شرطونو سره بلد وو. قرآن کريم چې کله هغوی ته امر وکړ، نو د روژې له حدودو او شرطونو څخه يې هېڅ شی هم نه دي بيان کړي، بلکې لارښوونه يې ورته کړې چې د خدای د يوه لرغوني حکم او د انبياوو عليهم السلام د يوه پخواني سنت په توګه په څه ډول يې چې پېژنئ، په هماغه ډول يې د يوه لازمي عبادت په توګه سرته ورسوئ. نبي کريم

(c) ketabton.com: The Digital Library

صلی الله علیه وسلم او صحابوو د هماغه له مخې روژه ونیوله او مسلمانان پښت په پښت د هماغه تګلارې لارویتوب کوي.

***

## د روژې فضیلت

له زکات او روژې وروسته درېیم مهم عبادت روژه ده. په عربي ژبه کې ورته د ((صوم)) کلمه کارول کېږي، لکه پورته یې چې یادونه وشوه، چې معنا یې له یو څه را تم کېدل او پرېښودل دي. د روژنې لپاره چې کله اسونه وږي او تږي پرېښودل کېږي نو عربان ورته د ((صوم)) کلمه کاروي. د شریعت په اصطلاح کې دا واژه په ځانګړو بندیزونو او شرطونو له خوراک، څښاک او د کوروالۍ له اړیکو څخه د را تم کېدو لپاره کارول کېږي. په پښتو ژبه کې همدې ته روژه ویل کېږي. څنګه چې انسان په دنیا کې خپل یو عملي وجود هم لري، د همدې لپاره چې کله د الله تعالی لپاره د ده د عبادت جذبه د ده له عملي وجود سره تړاو مومي، نو د لمانځنې تر څنګ اطاعت هم پکې را یو ځای شي. روژه د همدې اطاعت علامتي ښودنه ده. په روژه کې بنده د خپل رب په حکم او د هغه د رضا او خوښۍ په لټون ځینې روا کارونه پر ځان حرام وګرځوي او په بشپړ ډول د اطاعت سر ورته ښکته کړي، او په دې ډول د حال په ژبه د دې خبرې څرګنداوی کوي چې له الله او د هغه له امر پرته بل ستر شی نشته. هغه لوړ ذات که د فطرت د قانون له مخې یو روا شی هم د ده لپاره ممنوع ګرځوي، نو د یوه بنده په توګه ورته ښایي چې بې پوښتنې د هغه د امر په وړاندې خپل سر ټیټ کړي.

د الله ستروالي او لویوالي او د هغه د لویي د احساس او اعتراف دا حالت که پام وکړئ نو له هغه څخه د شکر یو رښتینی اظهار هم دی. په همدې اساس قرآن کریم، روژه د خدای تکبیر او شکر پر ځال کول ګڼي او فرمایي چې د دې موخې لپاره د روژې میاشت په دې ځانګړې کړی شوې چې د قرآن په بڼه الله تعالی چې کوم هدایت په دې میاشت کې پر تاسو پېرزو کړی چې د عقل لاربښود او د حق او باطل ترمنځ د توپیر لپاره څرګند او پرېکنده دلیل دی، هغه الله ستر وګڼئ او شکر یې پر ځای کړئ: وَلِتُكَبِّرُواْ اللّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ. د روژې همدا حقیقت دی چې له مخې یې ویل شوي چې روژه د الله لپاره ده او هماغه به یې اجر ورکوي. یانې کله چې یو بنده پرته له کوم لامله یوازې د الله تعالی د امر د پر ځای کولو لپاره ځینې روا څیزونه هم په خپل ځان ناروا ګرځولي نو اوس به هغه لوړ ذات په شمېر او تله نه، بلکې د خپلې ځانګړې لورېینې او پېرزوینې په اساس د هغې اجر ورکوي او داسې بې حسابه به یې ورکوي چې انسان به حیرانه ورته پاتې شي. له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د آدم اولاده چې هره نېکي کوي، د هغه بدل له لس چنده نیولې تر اوه سوه چنده پورې ورکول کېږي، خو روژه له دې څخه وتلې ده. د الله تعالی وینا ده چې: ((فانه لی و انا اجزی به — ژباړه: دا (روژه) زما لپاره ده او زه به یې اجر ورکوم))، په دې چې په دې کې بنده خوراک،

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځښاک او جنسي غوښتنې یوازې زما لپاره پرېږدي. امام غزالي رحمه الله په خپل کتاب ((کیمیای سعادت)) کې لیکي:**

**((که څه هم ټول عبادتونه د هماغه رښتیني معبود لپاره دي خو د روژې ځانګړي کول یې داسې دی لکه په ټولو جوماتونو کې چې الله تعالی د کعبې نسبت ځانته کړی.))**

**د روژتي لپاره د خوشالۍ دوه وختونه دي: یو هغه وخت چې کله روژه ماتوي. بل هغه وخت چې کله له خپل رب سره مخ کېږي. له دې اټکل کېدای شي چې د الله تعالی په نزد د دې عبادت ارزښت څومره زیات او ستر دی. نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:**

«لخلوف فم الصائم اطیب عند الله من ریح المسک» **(بخاري، حدیث: ۱۸۹۴)**
**ژباړه: د روژتي د خولې بوی د الله تعالی په نزد د مشکو له بوی څخه ډېر غوره دی.**

**دغه راز فرمایي:**

«إنّ في الجنّة بابا يقال له الرّيّان، يدخل منه الصّائمون يوم القيامة، لا يدخل معهم أحد غيرهم، يقال: أين الصّائمون؟ فيدخلون منه، فإذا دخل آخرهم أغلق، فلم يدخل منه أحد»

**ژباړه: بې شکه په جنت کې یوه دروازه ده چې (( الرَّیَّان – اوبوونکی)) ورته ویل کېږي، د قیامت په ورځ یوازې روژه نیونکي ترې ننوځي، له دوی سره به بل هېڅ څوک هم نه ترې داخلېږي، وبه ویل شي: چېرته دي روژه لرونکي ؟ نو دوی به پرې داخل شي نو کله چې یې وروستی کس داخل شي نو وبه تړل شي او بل هېڅ څوک به پرې داخل نه شي.**

**د روژې دا عبادت پر مسلمانانو د روژې په میاشت کې لازم ګرځول شوی. په دې کې شک نشته چې د نفس غوښتنې هېڅ کله پای نه مومي او د دنیا رغبتونه تل پکې پاتې وي، خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې الله تعالی په دې میاشت کې خپله یوه ځانګړې لورېینه دا کوي چې د انسانانو د غولوونکو شیطانو پر مخ تولې لارې وتړل شي. فرمایي: کله چې د روژې میاشت راشي نو د جنت دروازې پرانیستل شي، د جهنم دروازې وتړل شي او شیطانانو ته زولنې واچول شي. نو په دې میاشت کې هر کس ته فرصت وي چې که وغواړي پرته له کوم بیروني خنډ څخه د خپل ځان لپاره د خیر او ښېګنې هلې ځلې وکړي. د روژې اجر په روایتونو کې بیان شوی چې د انسان ګناوې پرې ببښل کېږي. د توبې او سمون لپاره دا د قرآن کریم عام قانون دی. خو بیا هم رسول الله صلی الله علیه وسلم د روژې په تړاو په ځانګړي ډول د دې زېری په دې ډول ورکړی:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

«من صام رمضان إيمانا واحتسابا غفر له ما تقدّم من ذنبه. ومن قام ليلة القدر إيمانا واحتسابا غفر له ما تقدّم من ذنبه»

**ژباړه: چا چې په ايمان او د ثواب په هيله د رمضان روژې ونيولې د هغه ټول تېر ګناهونه به وبښل شي. او څوک چې د قدر په شپه عبادت وکړي په ايمان او د ثواب په هيله د هغه ټول تېر ګناهونه به وبښل شي.**

**حضرت عائشه صديقه طاهره رضی الله عنها فرمايي چې د جنت دروازه وټکوئ. خلکو وپوښتل په څه شي؟ ويې فرمايل: په لوږې! او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: روژه د عبادت دروازه ده.**

*******

## د روژې موخه

**قرآن کريم د روژې موخه د بقرې سورت په دې آيتونه کې دا ښودلې چې خلک له خدايه ووېرېږي. د دې لپاره د ((لعلکم تتقون)) کلمات پکې راغلي، يانې په تاسو کې تقوا را وټوکېږي. د قرآن په اصطلاح کې د تقوا معنا دا ده چې انسان شپه او ورځ د الله تعالی له خوا د ټاکلو پولو دننه خپل ژوند تېر کړي او د زړه له ژورو څخه له دې وېره ولري چې که کله يې له دې بريدونو څخه تېری وکړ نو له الله پرته بل څوک نشته چې د هغه له وبال څخه يې وژغوري.**

**د روژې له کبله دا تقوا څنګه رامنځته کېږي؟ پر دې خبرې د پوهېدو لپاره درې ټکو ته پام پکار دی:**

**لومړی دا چې روژه د انسان په ذهن کې دا احساس په بشپړ ځواک را ويښوي چې دی د الله بنده دی. د نفس پر څو بنسټيزو غوښتنو د نارواتوب د مهر له راتلو سره سم د بندګۍ دا احساس را پنځېدل پيل شي او بيا ورو په ورو وده کوي، تر دې چې د روژه ماتې تر مهال پورې يې دا احساس له ټول وجود څخه را چاپېر شي. له سهار څخه تر ماښام پورې يې له ستوني يوه مرۍ ډوډۍ او يو څاڅکی اوبه هم نه ښکته کېږي او د دې شيانو لپاره يوازې د ستر څښتن د امر د پرځای کولو لپاره د نفس له هرې غوښتنې څخه مخ اړوي. کله چې د روژې دا عمل بيا بيا ترسره کېږي نو په حقيقت کې دا احساس د روژتي داخل ته ورښکته شي، بلکې په فطرت يې کې واخښل شي چې دی د يوه رب بنده دی او له ده سره همدا ښايي چې د ژوند په نورو چارو کې هم په سر ټيټاوي او اعتراف د خپل څښتن اوامرو ته غاړه کېږدي او په فکر او عمل دواړو کې د خپلې خپلواکۍ او ازادۍ له ادعا څخه لاس په سر شي. له دې څخه ښکاره ده چې په خدای باندې د انسان ايمان له هر اړخه ژوندی ايمان ګرځي چې له هغه وروسته دی هغه ذات يوازې يو خدای نه، بلکې يو اورېدونکی، ليدونکی، پوه، حکيم او عادل ذات او هستي ګڼي چې د ده له ټولو پټو او ښکاروو څخه خبر دی او هغه چې له اطاعت څخه يې په هېڅ حال کې هم کوږوالی نه شي کوی. د تقوا د رامنځته کولو لپاره تر ټولو لومړنی خيز همدا دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم ټکی دا دی چې روژه دا احساس د انسان د زړه تل او د روح ژورو ته هم ور کوزوي چې انسان یوه ورځ د خپل رب په وړاندې ځواب ویونکی دی. هسې خو هر مسلمان پر دې باور لري، خو په روژه کې یې چې کله د تندې احساس ځوروي، لوږه کړاوورکوي او جنسي ولولې په ټول ځواک د خپل تسکین غوښتنه کوي، نو هر کس پوهېږي چې د ځواب ورکولو همدا احساس دی چې انسان د ګېډې او شرمځای د غوښتنو له بشپړاوي راګرځوي. د روژې ټوله میاشت هره ورځ ځو ځو ساعته له دې بنسټیزو غوښتنو ځخه یوازې له دې امله د نفس ساتنه کوي چې یوه ورځ به له خپل رب سره مخ کېږم. تر دې چې د سختې ګرمي په حالت کې یې ستونی له تندې چیغې وهي، یخې اوبه یې په وړاندې وي، هر کله چې وغواړي ځښلی یې شي، خو نه یې ځښي؛ له لوږې یې ساه خېژي، خواړه پراته وي، خو نه یې خوري؛ ښځه او مېړه د ځوانۍ په حالت کې وي، یوازیتوب شته وي، هر کله چې وغواړي خپل خواهش پوره کوی شي، خو نه یې کوي. دا ریاضت او ځان ساتنه عادي ریاضیت نه دی. د الله په وړاندې د ځوب ورکولو همدا احساس د ده په زړه او ذهن کې په بشپړ ډول پوخ شي. د تقوا لپاره، که پام وکړو نو دوهم اغېزمن ځیز همدا دی.

درېیم دا چې د تقوا لپاره صبر اړین دی او روژه انسان ته د صبر روزنه ورکوي. بلکې د صبر د تربیت لپاره له دې غوره او له دې ځخه اغېزمنه بله تګلاره ښایي شتون ونه لري. په دنیا کې چې موږ له کومې آزموینې سره لاس او ګرېوان یو، د هغې حقیقت له دې پرته بل څه دی چې یو لور ته زموږ د حیواني وجود ځواکمن خواهشات دي او بل خوا د الله تعالی غوښتنه ده چې د هغه په ټاکلو بریدونو کې ژوند تېر کړو؟ دا شی ګام په ګام د صبر تقاضا کوي. رښتینولي، دیانت، زغم، پر ژمنې وفا، عدل او نیاو، ښښنه او تېرېدنه، له منکراتو ځان ساتنه، له بدیو را ګرځېدنه او پر حق درېدنه که نه وي، نو تقوا هېڅ معنا نه لري او له صبر پرته دا ځانګړنې، ښکاره ده چې په انسان کې په هېڅ ډول هم نه شي را ټوکېدی. نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي چې صبر نیمایي ایمان او روژه نیمایي صبر ده.

***

## هغه بدۍ چې بویه ځان ساتنه ترې وشي

د تقوا دا موخه د روژې له لارې ارومرو ترلاسه کېږي، خو د دې لپاره اړینه ده روژه لرونکی له هغو بدیو ځخه ځان وژغوري چې که چېرته هغه بدۍ له روژې سره یو ځای شي نو ټول برکتونه به یې له منځه یوسي. دا بدۍ که څه هم ډېرې زیاتې دي، خو په هغو کې ځینې داسې دي چې پکار ده هر روژتي ترې خبر وي:

له هغو ځخه یوه بدي دا ده چې خلک د روژې له میاشتې د خوندونو او مزو میاشت جوړه کړي. دوی فکر کوي چې په دې میاشت کې چې هر څومره لګښت وکړي، د الله تعالی په وړاندې نه شمېرل کېږي. نو دا ډول خلک که یو څه خوري او ځښي هم، نو د هغوی لپاره بیا دا د مزو اخیستو او مېلو میاشت وي. هغوی د خپل نفس د تربیت پر ځای نفس ته د ودې ورکولو میاشت ترې جوړه کړي او هره ورځ د روژه ماتي په چمتوالي کې ورځ ماښام

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي. هغوی چې څومره وخت روژه نیولې وي، په هغه کې همدا فکرونه کوي چې د ټولې ورځې له لوږې و تندې څخه یې په ګېډه کې کوم تش ځای رامنځته شوی، هغه اوس په کومو کومو نعمتونو ډک کړي. د دې پایله دا وي چې لومړی خو له روژې هېڅ هم لاسته نه ورځي، او که څه ترلاسه هم کړي نو په هماغه وخت به یې لاسه ورکړي.

له دې بدۍ څخه د ځان ژغورلو لاره دا ده چې انسان په خپل ځان کې د کار کولو د توان لپاره خوراک او څښاک ارومرو وکړي، خو د ژوند موخه یې ونه ګرځوي. هر څه چې بې له چمتوالي لاسته ورشي، پر هماغه له الله مننه وکړي او ویې خوري. د کورنۍ غړي یې چې په سترخان یو څه کېږدي او زړه ته یې ونه شي نو پر خفه نه شي. که الله تعالی مال او شتمني ورکړې وي نو د خپل نفس د لویولو پر ځای د بې وزلو او سوالګرو په مرسته او د هغوی په خوراک او څښاک یې ولګوي. دا څیز به خامخا د ده د روژې برکتونه زیات کړي. د لګښت او انفاق په هکله د نبي کریم صلی الله علیه وسلم تګلاره همدا وه. عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمایي چې په عامو حالاتو کې هم پیغمبر علیه السلام تر ټولو زیات پراخ لاسی وو، خو د روژې په میاشت کې به د سخاوت او لورېینې یو ساری وګرځېدی.

دوهمه بدي دا ده چې د لوږې او تندې په حالت کې په طبیعت کې یو څه تندتیا رامنځته کېږي، له دې امله ځینې خلک د دې پر ځای چې روژه د اصلاح او سمون وسیله وګرځوي، د غوسې او پارونې بانه ترې جوړه کړي. په خپلې ښځې او ماشومانو او تر لاس لاندې کار کوونکو باندې په نه خبره پارېږي، هر څه چې په خولې ورشي، وایې یې، که خبره لږ زیاته شي نو د کنځلو باران پیل کړي، او په ځینو حالاتو کې خو د تر لاس لاندې کار کوونکو له وهلو ټکولو څخه هم ځان نه را تم کوي. له دې وروسته خپل ځان په دې خبره ډاډه کوي چې په روژه کې خو همداسې کېږي.

د دې درملنه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ښودلې چې انسان دې په داسې وختونو کې د دې پر ځای چې د پارېدنې بانه یې وګرځوي بلکې د خپل ځان پر وړاندې دې د یوه سپر په ډول وکاروي، او هر کله چې د پارېدنې او غوسې موقع راشي، سمدلاسه دې ور په زړه کړي چې زه روژه یم. پیغمبر علیه السلام فرمایي: روژه سپر ده، نو له تاسو څخه چې د هر چا روژه وي، هغه دې د بې حیایي خبرې نه کوي، او نه دې د ناپوهۍ ښکارونه کوي. بیا که چا ښکنځل وکړه او یا یې غوښتل جنګ وکړي نو ورته و دې وایي چې ما روژه نیولې، ورور زه روژه یم. دا حقیقت دی چې روژه لرونکی که د غوسې او قهر پر مهال هر ځل دا تګلاره غوره کړي نو ورو ورو به ووینې چې د خپل نفس پر شیطان یې څومره ولکه موندلې چې اوس یې په را پرځولو کې ډېر کم بریالی کېږي. د شیطان پر وړاندې د بریالیتوب دا احساس د هغه په زړه کې د ډاډ او لوړاوي احساس را ټوکوي او د روژې همدا یاداښت د ده د اصطلاح ذریعه ګرځي. بیا به دی همالته غوسه کوي، چېرته یې چې ځای وي. وخت نا وخت پارېدل به ورته ناشونی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریيمه بدي دا ده چې ډېری خلک چې کله په روژه کې خوراک، څښاک او داسې نورې لېوالتیاوې پرېږدي نو د خپلې دې محرومي درمان په هغو لېوالتیاوو کې لټوي چې د دوی په اند روژې ته زیان نه رسوي، بلکې روژه پرې اسانه کېږي. دوی روژه ونیسي او د قطعو لوبه پیل کړي، ناولونه او افسانې ور واخلي، سندرې او موسیقي اوري، فلمونه ګوري، له ملګرو سره ناستې او مجلسونه کوي، او که دا یو کار هم ونه کړي نو غیبت او هجوې ته به لاسونه ور واچوي. په روژه کې دې چې ګېډه تشه وي نو انسان ته د خپل ورور غوښه خوړل هسې هم ډېر زیات خوند ورکوي. د دې پایله دا وي چې کله نا کله دوی سهار په دې بوختیاوو لاس پورې کړي او بیا د مؤذن په اذان له دې کارونو څخه لاس اخلي.

د دې بدي علاج دا دی چې انسان چوپتیا د روژې له ادابو څخه وګڼي او کوښښ وکړي چې لږ تر لږه چټیات وغږووي او د رښتیا او درواغو په برخه کې خو پکار ده چې خپلې ژبې له یوې مخې ته قلف واچوي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: هغه شخص چې دروغ ویل او پر هغه عمل کول پرې نه ږدي، الله تعالی دې ته هېڅ اړتیا نه لري چې دی خپل خوراک او څښاک پرېږدي.

د دې دوهمه تداوي دا ده چې په کومو وختونو کې له اړینو کارونو څخه اوزګار وي، په هغو کې د قرآن او حدیث مطالعه وکړي او پر دین ځان پوه کړي. د روژې دا فرصت غنیمت وګڼي او د قرآن کریم او نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ښودلو دعاګانو یو څه برخه زده کړي. په دې ډول به دی له هغو بوختیاوو څخه هم ژغورلی وي او وروسته به یې همدا زده کړې زېرمه هم په زړه کې د الله تعالی په ور په زړه کولو کې مرستندویه وي.

څلورمه بدي دا ده چې انسان ځینې وختونه روژه د الله لپاره نه نیسي، بلکې د خپلې کورنۍ او یا خپلوانو له ملامتیا څخه د ځان ساتلو لپاره یې نیسي او کله بیا په خلکو کې د خپلې دینداری د دبدبې د ساتلو لپاره دا زیار ویستل کېږي. د دې څیز له امله هم روژه، روژه نه پاتې کېږي.

د دې درملنه دا ده چې انسان هر وخت خپل نفس ته د روژې ارزښت په ډاګه کړي او لارښوونه ورته وکړي چې خوراک، څښاک او داسې نورو خوندونه خو هسې هم پرېږدې، نو ولې یې د الله لپاره نه پرېږدې؟ د دې ترڅنګ د روژې میاشتې د روژو ترڅنګ دې نفلي روژې هم کله نا کله نیسي او تر ډېره دې هڅه کوي چې له نورو یې پټې وساتي. له دې څخه همدا تمه ده چې دا فرض روژې یې هم کوم وخت الله تعالی ته سوچه وکړئ.

***

## د روژې ګټې

۱- د خوشالي د زېري ژمنه او د جنت ګټل ده.

۲- د نفس پاکوالی او د بدن د روغتیا ساتنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳- د الله (جل جلا له) مینه او اطاعت ترې را ټوکېږي.**

**۴- طبیعتونو ته سپېڅلتیا ښښي او د نفس سرغړونه ځپي.**

**۵- د بنده د سموالي او په سمه لاره د استقامت دلیل ده.**

**۶- د حرامو کارونو له تر سره کولو څخه د امن ډاډمنتیا ده.**

**۷- د الله جل جلا له وېره پیدا کوي.**

**۸- په زړه کې د الله تعالی کلک حضور پیدا کوي.**

**۹- له نورو مخلوقاتو سره له ورته والي انسان لرې کوي.**

**۱۰- په دې کې د روغتیا برخه هم شته ځکه معده د ناروغیو کور ده او پرهېز یانې لوږه د ټولو درملونو سر ده.**

**۱۱- د شیطان سره جنګ ده.**

**۱۲- په دې کې د بې وزله او هغه ناروغ چې له خوړو منعه شوی وي د درد احساس ده.**

***

## روژه او دعا

**روژه او دعا له یو بل سره پیاوړې اړیکه لري. د عبادتونو بدل او اجر په آخرت کې ورکول کېږي، خو د روژې یو ستر عوض په همدې دنیا کې د دعا په بڼه انسان ته ورکول شوی. د روژې په میاشت او د روژتي انسان د دعا منل کېدل، انسان ته ډاډ ښښي او په زړه کې یې د روژې درناوي ته زیاتوالی ورکوي.**

**الله تعالی لومړی پر انسان روژه فرض ګرځولې، وروسته یې د دعاګانو د منل کېدو زېری ورکړی، په قرآن کریم کې راځي:**

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لِي وَلْيُؤْمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ.

**ژباړه: او چې بندګان مې زما په اړه تا کله وپوښتي نو (ورته وایه چې) زه بالکل نږدې یم، د غوښتونکي سوال قبلوم کله چې ما ور بولي، نو زما (بلنه) دې هم ومني او پر ما دې ایمان راوړي تر څو په سمه لار محکم پاتې شي.**

**(البقرة: ۱۸٦)**

**په تفسیر ابن کثیر کې د دې آیت په تفسیر کې لیکل شوي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

((د روژې اړوند احکامو کې د دې آيتونو د راوړو حکمت دا دی چې د روژو له پای ته رسېدو وروسته د خلکو دعا ته پام شي، بلکې هره ورځ دې د روژه ماتي پر مهال ښې ډېرې دعاوې کوي. نبي کريم عليه السلام فرمايي: ((روژتي د روژه ماتي پر مهال چې کومه دعا کوي، الله تعالی يې ارومرو قبلوي.)) حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه به د روژه ماتي پر مهال خپله کورنۍ او ماشومان را وغوښتل او په ګډه به يې دعاوې کولې. په ابن ماجه کې هم دا حديث روايت شوی او په هغه کې د صحابي دعا دا را نقل شوې: ((اللهم انی اسئلک برحمتک اللتی وسعت کل شئ ان تغفرلی – يانې اې الله ستا پر هغه رحمت له تا غوښتنه کوم چې له هر څه را چاپېر دی، زما ګناهونه راته وبښه.)) او په حديث کې راځي چې د درې کسانو دعا نه رد کېږي. د عادل پاچا، روژه لرونکي شخص او مظلوم.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اخځليکونه:

۱- قرآن کريم.

۲- د قرآن کريم پښتو ژباړه – مولوي محمد فاروق غلجي.

۳- تفسير ابن کثير (اردو) – خطيب الهند مولانا محمد جوناګړهي.

۴- نضرة النعيم – الصوم.

۵- پښتو پوهنغوند (دايرة المعارف) – د پښتو ټولنې چاپ.

۶- اردو دايرة المعارف (پوهنغوند) – دانش ګاه پنجاب لاهور.

۷- Siri Guru Granth Sahib, translated by: Singh Sahib Sant Singh Khalsa, MD.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**